اې الله زمور ربه، مور ته په دنيا او اخرت کې خپر راکړه، او د اور له عذابه مو وساته

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: "اې الله زمور ربه، مور ته په دنيا او اخرت کې خپر راکړه، او د اور له عذابه مو وساته".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به ډيرى وخت جامعه دعاګاني کولې چې له هغو څخه يوه دا ده: "اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة، وفي الآخرة حسنة، وقنا عذاب النار"، دا دعا د دنيا ښېګڼو ته شامله ده، لکه خوندور، پراخه او حلال رزق، صالحه مېرمن، داسې اولادونه چې سترګې پرې يخيږي، هوساينه، ګټور علم، نيک عمل او داسې نورې مطلوبې او روا غوښتنې او د آخرت خپر لکه: د قبر او آخرت سختو حالاتو او د جهنم له عذابونو څخه په امن کې پاتې کېدل، د الله جل جلاله خوښي او ابدي نعمتونو تر لاسه کول او ډېر مهربان رب ته نږدې کېدل.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5502